حفیظ الله خالد

تاریخ : د مارچ دوهمه ۲۰۲۲

زما یو پخوانی شعر

تللي ځوانان

زړه می را تــه وائي د عنقا مارغه به راشي

پس له ډیــرکلونو بــه د ســولی بــیا رڼا شي

کلي اوښاروکي بــه د وینــې ویالې بنـدې شي

جنګ جګړونه ستړي به یوبل سره پخلا شي

رابشي وطن ته اوس چې اوسي په" دوحا" کې

ځینې به چارواکي د شورا او د قضا شــي...

خو بیا به دې دنـیا ته هغه تللي ځوانان رانشي

خوله به د یتیم ماشوم بیا ډکه له خنــدا نشي

هــغه مورکی چې د خپــل زړه تــوټــه بایللی

لاری بــه تــل څــاري خو بچئ بی پیدا نشي

هغه بوډا پلار چې تنکی ځوی یی وژل سوی

هیڅکله بی ځوی بیا دخپل پلارد لاس امسا نشي

څه ښابسته ځوانان پدی جنګو کې موړ نه لاړل

ما خالـد نه هېربه هیڅ هغوروح ته دوعا نشي

*****

خالد / ویانا / د مارچ دوهمه 2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ